# د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځیو د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام د ژبې پالیسی

## فلسفه

د خبرو اترو، د اړیکو ټینګولو او د یو کلتور په اړه پوهاوي تر لاسه کولو لپاره ژبه یوه پیاوړې وسیله ده. په پرنس ویلیم کاونټۍ عامه ښوونځیو (PWCS) کې، د یوې ژبې زده کړې ته زمونږ ژمنتیا زمونږ د ډیویژن د سواد زده کړې په ویژن کې لیدل کیږي: "په PWCS کې، د سواد زده کړه یو ځلانده راتلونکې پیل کوي."

زمونږ د ستراتیژیکې پلان سره په مطابقت، PWCS انتقادي فکر کونه، په مسؤلانه توګه د ډیجیټلې وسیلو کارونه او هوډ لرنه هڅوي. زده کوونکي هره ورځ په ټولو مضامینو ، په لوست، لیک، خبرو اترو او فکر کولو کې ښکیل کیږي، د شواهدو پر بنسټ او د زده کوونکو په محوریت لرونکو د سواد زده کړو کړنلارو لخوا ملاتړ کیږي.

د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام ټول ښوونکي د ژبې ښوولو ښوونکي دي. دوی په هر ټولګي کې د خبرې اترو کولو یا ارتباطاتو او زده کړې څخه ملاتړ کوي. د یوې ژبې زده کول دا په ډاګه کوي چې مونږ څرنګ فکر کوو، زده کړه تر سره کوو او له یو بل سره خبرې کوو، او زده کوونکي باید دا فرصتونه ولري چې په خپله مورنۍ ژبه کې او په نورو اضافي ژبو کې مهارت تر لاسه کړي. دا کار د IB ماموریت څخه ملاتړ کوي ترڅو د کلتورونو ترمنځ تفاهم او احترام ته وده ورکړي، زده کوونکي دې ته چمتو کړي چې د کلتورونو تر مینځ اړیکې رامینځته کړي او د یوې لا زیاتې سوله ییزه نړۍ په جوړولو کې مرسته وکړي.

## د خوښې په ژبې کې درسي موادو ته لاسرسی او مساوات

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو د IB ښوونځي ژمن دي چې ټولو زده کوونکو او د هغوي کورنیو ته د هغوی د کار او لاسرسي وړ په ژبه کې خدمتونه او درسي مواد وړاندې کړي.

**د لاسرسی وړ ژبې:** د لاسرسی وړ ژبې په ستراتیژیکې ډول په IB ټولنې کې دننه د شمولیت او متنوعیت څخه د ملاتړ لپاره غوره شوې دي.

**داخلي ژبه:** د ډیرې چارو تر سره کولو، اکاډمیکې او اداري فعالیتونو لپاره انګلیسي ژبه کارول کیږي.

**کاري ژبه:** هغه ژبې چې له لارې یې یوه اداره له خپلو شریکانو سره اړیکه ټینګوي او په کومه ژبه کې چې یوه اداره ټول هغه خدمتونه وړاندې کولو ته ژمن وي چې د پروګرامونو د پلې کولو لپاره اړین ګڼل کیږي. اوس مهال، د IB درې کاري ژبې انګلیسي، فرانسوي او هسپانوي دي.

## د PWCS د ژبې پروفایل / پېژنیال

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي په ویرجینیا کې ترټولو زیات متنوعیت لرونکې ښوونځي دي او په ټول هیواد کې لسم ترټولو متنوعیت لرونکې ښوونځي دي، چې په مجموعي ډول د 166 هیوادونو او د 189 کورنۍ ژبو استازیتوب کوي.

Formatted: Left-to-right

## د ژبې د زده کړې لپاره وړاندې کیدونکې کورسونه

### د ابتدایۀ کلونو پروګرام او د منځنی کلونو پروګرام لپاره درسی نصاب

زمونږ د ښوونې لومړنۍ ژبه انګلیسی ده. د درسی نصاب په ټولو برخو کې په انګلیسی ژبه تدریس کیږی. اوس مهال، د ورکتون څخه تر اتم ټولګې پورې هر زده کوونکی د سائنسي ډوله لوست څېړنې او د شواهدو پر بنسټ د سواد زده کړې لارښوونو پر اساس بنسټیزه لارښوونه ترلاسه کوي، لکه څرنګ چې د ویرجینیا د لیک لوست په قانون (VLA) کې تعریف شوي دي. د ورکتون څخه تر اتم ټولګې پورې زده کوونکي به د شواهدو پر بنسټ اضافي لارښوونې او مداخله هم ترلاسه کړي، لکه څرنګ چې د زده کوونکی د لوست په انفرادی پلان کی په ډاګه شوي، که چیرته زده کوونکی د لیک لوست معیارونه پوره نکړي.

- په PWCS کې د ورکتون څخه تر 8 پوری ټولګیو لپاره، د سواد زده کړې لارښوونې لپاره اصلی درسی نصاب د شواهدو پر بنسټ لارښوونه ده.
- د ورکتون څخه تر 2 ټولګې پوری زده کوونکو لپاره د غږونو په اړه د اضافي لارښوونې سرچینو سره د شواهدو پر بنسټ مداخله.
- د ورکتون څخه تر 8 ټولګې پوری زده کوونکو لپاره د شواهدو پر بنسټ  اضافی بشپړ ښوونیزی سرچینی.

### د ابتدایۀ کلونو/ښوونځیو پروګرام

په پرنس ویلیم کاونټي ښوونځیو کې د ابتدایه کلونو IB پروګرام په فعاله توګه د مفهومي، څېړنیز پلوه، او فرامرزي ښوونې او زده کړو له لارې د ژبې زده کړه حځوي. په دی جامع تګلاره کی د څلور واړه برخې، اوریدل، ویل یا خبرې اترې کول، لوست او لیک شامل دي. ټول ښوونځي په درسی نصاب کی میډیا او ډیجیټلی سواد زده کړه شاملولو سره د دی خبرې ډاډ رامینځته کوي چې د ژبې لارښوونه د محتوا په ټولو برخو کې شامله ده. دا کار د ژبې پوهې یو ګټور چاپیریال رامینځته کوي کوم چې د زده کوونکو ژبني مهارتونه پراخه کوي او هغوی د نړۍ په کچه چمتو کوي.

زده کوونکی په ورکتون ټولګی کې د نړۍ دویمه ژبه زده کول پیل کوی. اوس مهال، د لارښوونې موده 45 دقیقې ده. د لارښوونې د تکرار پریکړه د هری ودانی یا ځای پوری اړه لري.

### د منځنی کلونو/ښوونځیو پروګرام

لاندې ذکر شوي د انګلیسی ژبې او د ادبیاتو کورسونه وړاندې کیږی:

Formatted: Left-to-right

- IB IBMYP Language Arts 6 ، IB IBMYP Language Arts Extended 6 (Beville منځی ښوونځۍ ، Hampton منځی ښوونځۍ ، Fred Lynn منځی ښوونځۍ ، Unity Braxton منځی ښوونځۍ)
- IB IBMYP Language Arts 6 ، IB IBMYP Language Arts Extended 6 (Beville منځی ښوونځۍ ، Hampton منځی ښوونځۍ ، Fred Lynn منځی ښوونځۍ ، Unity Braxton منځی ښوونځۍ)
- IB IBMYP Language Arts 8 ، IB IBMYP Language Arts Extended 8 (Beville منځی ښوونځۍ ، Hampton منځی ښوونځۍ ، Fred Lynn منځی ښوونځۍ ، Unity Braxton منځی ښوونځۍ)
- Advanced Middle Years Programme English 9 (Gar-Field عالي ښوونځي، Unity Reed عالي ښوونځۍ)
- Advanced Middle Years Programme English 10 (Gar-Field عالي ښوونځي، Unity Reed عالي ښوونځۍ)

## د ژبې لاسته راوړنه یا زده کړه

### په زده کړه کې د ژبې او کلتور اهمیت

ژبه او کلتور د ګټورو ارتباطاتو جوړولو لپاره کلیدي دي – په دی اړه پوهیدل چې څرنګ، کله، ولې او چا ته باید څه و ویل شي. په داسې حال کې چې ګرامر او لغتونه په خپل ځای اړین دي، له عصري طریقو لارښوونه د اصلي نړۍ ارتباطاتو په شمول په کلتوري او ټولنیزو بنو ټینګار کوي.

ټول ښوونکي د ژبې ښوولو ښوونکي دی. هغه زده کوونکي چې د خپلې مورنۍ ژبې پرته په بله ژبه زده کړه تر سره کوي، په یو پیچلې پروسه کې ښکیل کیږي: ژبه زده کوي، د ژبې له لارې زده کړه کوي، او د ژبې په اړه زده کړه کوي (Halliday, 2008).

PWCS د ټول شموله، د بیلابیلو ژبو څخه د ډک ټولګیو له لارې د دغو زده کوونکو ملاتړ کوي کوم چې لوست، لیک، اوریدل او خبری کول حځوي، پداسې حال کې چې د زده کوونکو هویت او کلتور ته احترام کوي او د شالیدونو په اړه پوهه رامینځته کوي.

د ژبې او شالید په پام کې نیولو پرته، ټول زده کوونکي درسی نصاب ته مساوي لاسرسی لري. د تدریس کړنلارې په خوندي او زړه راښکونکي چاپیریال کې د مختلفو زده کوونکو د ملاتړ لپاره ډیزاین شوي دی چې د ژبې پراختیا او مفهومي پوهاوی دواړه حځوي.

د بلې ژبې او کلتور مطالعه شخصي وده زیاتوي، د خپلې ژبې په اړه ژوره پوهه، او د نورو ژبو، کلتورونو ستائنه رامینځته کوي. دا همدارنګه بین الرشتوي اړیکې پیاوړې کوي – له تاریخ، ساینس، ریاضیاتو او هنرونو سره د ژبې زده کړه نښلوي – او زده کوونکي د اغېزمنو اړیکو نیوونکو او مسؤلو نړیوالو اتباعو په توګه چمتو کوي.

د IB د منځني او عالي ښوونځی د کورسونو لړۍ په لاندې جدول کې ښودل شوې ده.

Formatted: Left-to-right

| تولګی | د بهرنی ژبو سره پېژندنهمعرفی کونه | په هسپانوي‌يه ‌ي ژبه کې | فرانسوي | په فصاحت سره د ژبې ويونکو لپاره هسپانوی |
|---|---|---|---|---|
| **6 ټولګۍ** | MYP ليول 1 | MYP ليول 1A | MYP ليول 1A | |
| **7 ټولګۍ** | | MYP ليول 1A<br>MYP ليول 1B<br>MYP ليول 1 | MYP ليول 1A<br>MYP ليول 1B<br>MYP ليول 1 | په فصاحت سره د ژبې ويونکو لپاره هسپانوی 1A - ابتدايه ليول |
| **8 ټولګۍ** | | MYP ليول 1B<br>MYP ليول 1<br>MYP ليول 2 | MYP ليول 1B<br>MYP ليول 1<br>MYP ليول 2 | په فصاحت سره د ژبې ويونکو لپاره هسپانوی 1B - ابتدايه ليول |
| **9 ټولګۍ** | | MYP ليول 2<br>پرمختللی MYP ليول 3 | پرمختللی MYP ليول 3<br>DP ليول 4 | په فصاحت سره خبرې کوونکو لپاره هسپانوي 1 - ابتدايه ليول<br>په فصاحت سره خبرې کوونکو لپاره هسپانوي 2 - متوسط ليول |
| **10 ټولګۍ** | | پرمختللی MYP ليول 3<br>DP ليول 4 | پرمختللی MYP ليول 3<br>DP ليول 4 | په فصاحت سره خبرې کوونکو لپاره هسپانوي 2- متوسط ليول<br>پپه فصاحت سره خبرې کوونکو لپاره هسپانوي 3 - پرمختللی ليول |

Formatted: Left-to-right

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **11 ټولګۍ** | | DP لیول 4<br><br>DP لیول 5SL | DP لیول 4<br><br>DP لیول 5SL | پېړه فصاحت سره خبرې کوونکو لپاره هسپانوي 3 - پرمختللی لیول<br><br>IB DP هسپانوي A1 SL (ګار فیلډ عالی ښوونځي) |
| **12 ټولګۍ** | | DP لیول 4<br><br>DP لیول 5SL<br><br>DP لیول 5 HL | DP لیول 4<br><br>DP لیول 5 SL<br><br>DP لیول 5 HL | IB DP هسپانوي A1 SL یا HL (ګار فیلډ عالی ښوونځي) |

## د مسلک اړوند پروګرام

هغه زده کوونکي چې ډیپلوم پروګرام (DP) ژبې زده کړې کورس اخلي، اړ دی چې لېرتلېره دوه نور DP کورسونه واخلي ترڅو د مسلک پروګرام (CP) شرائط پوره کړي. د DP ژبې استملاک یا زده کړې کورس اجازه نلري چې د CP لپاره د دوه DP کورسونو څخه د یو په توګه وي پرته له دې چې خپنې ځانګړو قضیو کې اجازه لري چیرته چې له یو زده کوونکي څخه په وغوښتل شي چې د ټولګي څخه بهر د یوې بلې ژبې زده کولو لپاره Duolingo پروګرام وکاروي. ټول زده کوونکي د پروګرام په لومړي کال کې د ژبې د ودې د ثبوت په ترلاسه کولو کار کوي او بیا په خپل ثبوت باندې کار کوي ترڅو د دویم کال په بهیر کې خپل د ژبې پورټ فولیو رامینځته کړي.

هغه زده کوونکي چې د DP ژبې استملاک یا زده کړې کورس نه اخلي، کولی شي د پروګرام په لومړي کال کې د ژبې استملاک/زده کړې کورس واخلي (دا کورس کیدی شي چې د DP کورس وي یا د ژبې زده کړې کوم بل کورس وي چې زمونږ په ښوونځي کې وړاندې کیږي) یا زده کوونکی کولی شي Duolingo وکاروي او د Duolingo ټولګي برخه وي ترڅو له ښوونځي بهر د خپلې ژبې په ښه کولو کار وکړي.

## د IB CP ژبې پورتفولیو جوړول

زده کوونکي د پروګرام لومړی کال د ژبې د پرمختګ لپاره په ثبوت ترلاسه کولو کې تیروی او دویم کال په دې شواهدو باندې فکر کوی او خپل پورتفولیو جوړوی. زده کوونکي د پروګرام په لومړي کال کې د ژبې د زده کړې ښوونکي لخوا نظارت کیږي پداسی حال کی چی هغوی د ژبی زده کړې ته وده ورکوي. د دویم کال په بهیر کې، د شخصي او مسلکي مهارتونو ښوونکی د IB CP پروګرام کوردیناتور سره یوځای د زده کوونکو د پرمختګ نظارت کوي پداسی حال کی چی زده کوونکی خپلو زده کړو ته نظر کوي او خپل پورټ فولیو جوړوي.



Formatted: Left-to-right

د مسلک اړوند مطالعې سره مخامخ کیدنه د دویم کال په بهیر کې د شخصي او مسلکي مهارتونو په ټولګي کې رامینځته کیږي. دغه اړیکه د زده کوونکو د ژبې د وروستي پورټ فولیو یوه برخه ده او پکې انعکاس کیږي.

د ژبې پراختیا/پرمختک له اجازی تر لاسه کولو راهیسې ډیره نه ده بدل شوې، مګر مونږ د خپلو پورټ فولیو جوړولو لپاره د ثبوت او انعکاس ماډل کارولو څخه لیرې کیږو او پرځای یې د پروژې پراساس پورټ فولیو لپاره نور انتخابونه وړاندې کوو. د پروژې پراساس پورټ فولیو به زده کوونکو ته اجازه ورکړي چې د خپلې نوې پرمختللې ژبې په کارولو سره نوی محتوی رامینځته کړي پداسې حال کې چې د خپلې ژبې د زده کړې پروسې باندی هم انعکاس کوي.

## IB CP ژبې ته د ودی ورکولو موخې

ژبې ته د ودې ورکولو موخې د شپږو پړاوونو په کچه په څلورو مخابراتی یا ا رتباطی پروسو کی تنظیم شوي دي. د اړیکو یا ارتباط ادراکي، ژبني او ټولنیز کلتوري اړخونه د څلورو موخو څخه د هر یو سره تړلي دي.

له زده کوونکو څخه تمه کیږي چې د موخی په ژبه کې د خبری اتری کولو وړتیاوې رامینځته کړي:

- په مناسبه توګه، په سمه توګه او په اغیزمنه توګه
- په زیاتیدونکی کچه له ټولنیز، کلتوري، او اکاډمیکی پلوه
- د زیاتیدونکی بیلابیلو موخو لپاره

د زده کوونکو د ژبې د ودې او د خبرو اترو وړتیا په اړه د پلان جوړولو، ښوونی، ارزونې او راپور ورکولو په وخت کې ښوونکی باید دا موخی په پام کې ونیسی.

خبرو اترو ته وده ورکولو پروسی په پیل کې، زده کوونکی خپل د ژبې مهارتونه د څلورو موخو په مقابل کې اندازه کوي او د کورس په بشپړیدو سره دا کار بیاځلی تر سره کوي.

د هر یو پړاو لپاره د زده کوونکو زده کړه کی باید په مفهومي او ژبني کچه د ټولو موخو په اړه لارښوونه وشي.

### د شفاهی اړیکو/خبرو اترو موخې

- غوږ نیول او ځواب ورکول
- په ټولنیزه توګه یا په ګډه خبری اتری کول
- د مشخصو موخو په اړه خبرې کول

په یو داسې کلتور کی د مسلکي آدابو څېړنه وکړئ چې تاسو ورسره لیوالتیا لرئ. له مسلکی پلوه د پېژندګلوی او غیر رسمي خبرو اترو لپاره یو متن ولیکئ، چې ستاسو د مسلکي زده کړو (CRS) برخه وي. د خپلو دوو همزولو سره یو ځائ رول ولوبوئ او عکاسی کړئ.

له یوه ملګري سره په ګډه د موخې په ژبه کې د پوهنتون، انټرنشپ یا دندې مرکې پلان جوړ کړئ.

Formatted: Left-to-right

**د انځوریزې ژباړنې موخې**

- انځورونه وژباړئ او پکی ښکېل شئ چی د ویلو او لیکلو ور ژبې سره وړاندی شوي وي.
- د متن څخه د اخیستل شویو بیلګو سره، د نظرونو او شخصی ځوابونو څخه ملاتړ کول. انځوریز متن: پوسټرونه/اشتهارونه ، نقشې، ګرافیکی انځورونه ، فلمونه، او نور وغیره.

د خپل کلتور او د موخی کلتور څخه په ورته موضوع باندی دوه پوسټرونه یا اعلانونه انتخاب کړئ. دا چی پیغام څرنګ لیږدول کیږي، په اړه یې توپېرونه او ورته والی په ګوته کړئ او دا تشریح کړئ چې د کلتوری ورته والی او توپیرونو په اړه څه تجویز وړاندی کوی.

د هغو څېزونو، خلکو یا ډلو انځورونه راټول کړئ چې ستاسو CRS سره تړلی دي. په کلتوری استازیتوب کی داسی بڼی او د لیدو وړ څیزونه په ګوته کړئ چی ممکن په مختلفو کلتورونو کې ناسم وژباړل یا مطلب شي.

**د لوست موخې**

- په معلوماتو پوهیدل
- د لیکل شوی متن ژباړل او ورسره ښکیل کیدل
- د متن څخه د اخیستل شویو بیلګو سره د نظرونو او شخصی ځوابونو ملاتړ کول

د هغه شرکت / اداری یا سازمان / پوهنتون ویب پاڼه ولولئ چې تاسو ورسره علاقه لرئ او چی په یو داسی هېواد کې شتون ولری چې پکی د موخی ژبه ویل کیږي. د احتمالي درخواست کوونکو لپاره اړینی نقطی په ګوته کړئ.

د یو داسې هېواد د یوې ادارې یا ډلې څېړنه تر سره کړئ چې تاسو ورسره آشنا نه یاست، مګر غواړئ چی پکی دنده تر سره کړئ. ستاسو (CRS) لپاره د مسلکي پرمختګ انفرادي تګلاره څرنګ د یو بل هیواد ورته ځایی ادارې سره پرتله کېږي؟

**د لیک موخې:**

- په لیکنه کی مفکوری، احساسات ، نظرونه ، او معلومات تنظیم او څرګند کړئ
- د مشخصو موخو لپاره ولیکئ
- زیات دقت سره ولیکئ

د دندی د ځاي په چاپېریال کې د وسیلو د کارونی لپاره د موخی په ژبه واضح، لنډ او په اسانی سره د پوهیدو وړ لارښوونی ولیکئ (د بیلګی په توګه دفتر، ورکشاپ، سټوډیو، یا پخلنځی).

د یوې ادارې سره د انټرنشیپ لپاره د موخی په ژبه کی یو غوښتنلیک ولیکئ.

Formatted: Left-to-right

## د زده کوونکو څخه مستقیم ملاتړ کول

PWCS د زده کوونکو سره د ژبې په زده کړه کې یو لړ مرستې تر سره کوي. موجودی مرستی په لاندې شکل سره دی:

- د انګلیسی ژبې زده کوونکی (ELL) پروګرام زده کوونکی ښوونځی ته له داخلیدو مخکې د WIDA ارزونی (د نړی په کچه ډیزاین شوي پرمختللی ارزونه) له لاری آزمویل کیږي. دا آزموینه د اوسنی کچی له مخی د زده کوونکو د انګلیسی ژبې لوست، لیک، د اوریدلو او خبری کولو وړتیا یا مهارت ارزوي.
- د ELL زده کوونکی هر کال د ژمی په نیمایی کې WIDA آزموینه تر سره کوي ترڅو د خپلو زده کړو کچه معلومه کړي.
- په انګلیسی ژبه، ریاضیاتو، ټولنیزو علومو او د سائنس په برخو کې د بریا تر لاسه کولو موخه د انګلیسي ژبې د مهارت 5-1 کچو کې زده کوونکو ته د اکاډمیکې ژبې لارښوونه وړاندی کیږي.
- د خدمت فرصتونو زیاتولو لپاره د لارښوونو وړاندی کولو ډولونه: په ګډه تدریس، نورو زده کوونکو سره یوځای کول، له ټولګی څخه جلا یوازی لارښوونه، شمولیت ، او یوازې د EL ټولګی.
- د ESOL تصدیق شوی ښوونکو او د محتوا ښوونکو لخوا ملاتړ چې په بیلابیلو تخنیکونو پوه دي څوک چې د انګلیسی ژبې پراختیا/ودی په برخه کی ملاتړ کوی.
- هر زده کوونکی ته د جلا وسیلې ورکولو د PWCS پالیسی زده کوونکو ته دا اجازه ورکوی چې د ژبې د زده کړې لپاره د ټکنالوژۍ څخه ګټه پورته کړي. په ټولګیو کې د مرستی بنسټیزه وسیله مایکروسافټ ژباړه ده. د ژباړنې اپلیکیشن زده کوونکو ته اجازه ورکوی چې له یو بل سره خبری اتری وکړي. د ژوندۍ بڼې او له مخامخ څخه خبری اتری د سکرین پر مخ لیکل کیدي او ژباړل کیدي شی.

## د کورنیو یا څو ژبې ویونکی کورنیو څخه ملاتړ کول

د کورنۍ او ټولنې ښکیلتیا د PWCS د ستراتیژیکې پلان یوه مهمه برخه ده. مونږ په دې باور لرو چې د زده کوونکو د بریا لپاره د کورنیو او ښوونځیو ترمینځ پیاوړی ملګرتیا اړینه ده.

PWCS د ژباړنې او ترجمې خدمتونه وړاندی کولو له لارې د کورنیو ملاتړ ته ژمن دی. هر ښوونځی د والدینو یو رابط کارکوونکی لري څوک چې د کورنیو او ښوونځي ترمینځ د پل په توګه خدمتونه تر سره کوي - د اړیکو جوړولو په برخه کې مرسته کوي، کورنۍ له سرچینو سره نښلوي، پیښې تنظیموي، او کورنیو ته د ښوونځي د کړنلارو په اړه لارښوونه کوي.

په داسی حال کی چی د ښوونځی درسی مواد په بنسټیزه توګه په انګلیسی ژبه کی دي، خو بیا هم، کلیدی اسناد او اړین ارتباطات په زیاتو غوښتل شویو ژبو کی ژباړل شوي دي. PWCS د والدینو او ښوونکو ترمینځ د ناستو او د ښوونځیو د نورو اړوند مسایلو لپاره هم د مسلکي ژباړونکو خدمتونه وړیا وړاندې کوي.

که چیرته یو ژباړونکی په فیزکی ډول شتون ونلري، کارکوونکی د هغوي ژبه معلوملو لپاره پوسټر کاروي ترڅو د ژبې اړتیاوې یې معلومې کړي او کورنۍ له خدمتونو سره وصل کړي. کورنۍ کولی شي د ژباړنې وسیلو ته هم لاسرسی ومومي لکه د " Auto Translate" مینو له لارې د ماشین ژباړې ته او په PWCS ویب پاڼه کې د PWCS د ژباړنی په برخه کې لاسي ډول ژباړې ته. له مخامخ څخه د مرستی ترلاسه کولو لپاره، کورنی کولی شی چی د خپل ماشوم ښوونځی سره یا د نړیوال ښه راغلاست مرکز سره اړیکه ټینګه کړي.

Formatted: Left-to-right

## کتابتون

د PWCS ښوونځیو د کتابتون پروګرام ټولو زده کوونکو ته د فکر کولو، جوړولو، شریکولو، او وده موندلو توان ورکولو سره هغوي نښلوي. (AASL 2018). د ښوونځي کتابداران دا ځانګړې فرصت لري چې په هره محتويي برخه کی او په هر ټولګي کې په ښوونه اغیزه ولري. په دې چاپیریال کې، زده کوونکي کولی شي د ټولګي مهارتونه د بې ساري زده کړې تجربو سره يوځای کړي کوم چې د سواد زده کړې ارد ګرد په ټولو ډولونو متمرکز دي.

د ښوونځي کتابداران هغه ټولګي تنظیموي چې د دوی د زده کوونکو ځانګړو اړتیاوو باندی تمرکز کوي او هغوي په دوامداره توګه ښکیلوي ترڅو په ټولو بڼو کې سرچینې کشف، تنظیم، تشریح، ترویج او منعکس کړي.

زده کوونکي چې کتابتون ته راځي، دا اختیار لري چې د لوست کچی یا د نورو لخوا د مشخص شویو فکتورونو محدودیت پرته د کتابتون هغه کتابونه وټاکي چې دوی يې لوستل غواړي. زده کوونکي د کتابتون د کټلاګ په کارولو سره د خوښی درسی توکي لټوي او غوره کوي.

### سرچینی او د لارښوونې مواد/توکی

کتابتونونه زده کوونکو ته داسی موادو ته لاسرسی ورکوي چی د هغوي اکاډمیکی اړتیاوی پوره کړي، د زده کوونکو د ودی، د سواد زده کړي کچی او شخصی علاقو څخه ملاتړ وکړی. د ښوونځی تصدیق شوی کتابداران په ګډه هغه درسونه تدریس کوی چې په بیلابیلو درسونو تمرکز کوی. سواد زده کړه د ملي ښوونځي د کتابتون په معیارونو کې ګډه شوی چې د امریکا د ښوونځي د کتابتونونو ټولنې لخوا تعریف شوي، کوم چې زده کوونکو ته د PWCS نصاب او د ویرجینیا د زده کړې معیارونو (VAASL له لارې د فکر کولو، جوړولو، شریکولو او خپلې زده کړو ته د ودی ورکولو وړتیا ورکوي).

## د کارکوونکو مسلکی پراختیا/وده

د مسلکي پراختیا یا ودې په اړه پریکړې د هر ښوونځي ځانګړي اړتیاوو ته په کتو سره تر سره کېږي. مسلکي وده له ودانی بهر یا په ودانی کی دننه ورکشاپونو کی د IB مسلکي وده او د کارکوونکو په غونډو او/یا د زده کړې په موخه په ډله ییزو غونډو کې شریکی غوره کړنلاری هم کیدی شي. سربیره پردې، کارکوونکي دا فرصت لري چې په نورو روزنیزو کورسونو کې ګډون وکړي چې د محتوا پوری ځانګړی وي او چی د زده کوونکو د اړتیاوو څخه د ملاتړ لپاره د هغوي د تجربو پراخه کولو لپاره ډیزاین شوي وي.

په وروستی ځل د کتل کیدو نیټه مۍ 2025

Formatted: Left-to-right